قرآني بيان

# په زړهٔ باندې د مهر لګيدو اسباب

د مدني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

11-April-2025

د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 11 اپريل، کال 2025ء ( 12 شوال، کال 1446ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پۀ نوم د

# پۀ زړۀ باندې د مهر لګيدو اسباب

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د سپوږمۍ د دوه ټوټې کيدو واقعه
- پۀ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْہُ باندې د هدايت لار کولاو شوه
- د ضدي قومونو عبرتناک انجام
- پۀ زړۀ باندې د مهر لګيدو يو اهم سبب

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

یو ځل حضرت جبریلِ امین عَلَیْهِ السَّلَام بارګاهِ رسالت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او عرض یې وکړو: یَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! چا چې پهٔ تاسو باندې یو ځل درودِ پاک ولوستلو، الله پاک به د هغهٔ پهٔ اعمال نامه کښې 10 نیکۍ ولیکي او 10 ګناهونه به یې وران کړي او 10 درجې به ورله اوچتې کړي-[1]

اُن پر دُرود جن کو کسِ بے کَساں کہیں | اُن پر سَلام جن کو خَبَر بے خَبَر کی ہے[2]

**وضاحت:** هغه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا ته چې د بے وسو ملاتړ وئیلے شي، څوک چې د هر بے خبره خبر لرونکے دے، پهٔ هغهٔ باندې دې درود او سلام وي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

اِنَّ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَیْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا یُؤْمِنُوْنَ ﴿۶﴾

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰی قُلُوْبِهِمْ وَ عَلٰی سَمْعِهِمْ ؕ وَ عَلٰۤی اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ٘ وَّ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِیْمٌ ﴿۷﴾

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1] ... القول البدیع، صفحه: 118-

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه: 209-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د رَمَضَانُ المُبَارَک نه مخکښې مونږه د قرآنِ کريم د ترتيب مطابق د قرآني بيانونو د اوريدو سعادت حاصلولو، نن اِنْ شَآءَاللّٰهُ الْکَرِیم! مونږه بيا د هُغه ترتيب سره د قرآني بيانونو سلسله شروع کوو- مونږه د وړومبۍ سيپارې، د سورۀ بقره د آيت: 6 او 7 د اوريدو سعادت حاصل کړو-

د دې نه پۀ مخکښينو آيتونو کښې د هُغه خلقو ذِکر وشو څوک چې د قرآنِ کريم د هدايت قبلولو صلاحيت لري- دا کوم خلق دي؟ الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| هُدًى لِّلْمُتَّقِيْنَ ۙ﴿۲﴾ (پاره: 1، سورۀ بقره: 2) | **ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** د ويريدونکو [پرهيزګارو] د پاره هدايت دے- |

يعنې دا متقيان خلق دي کوم چې قرآنِ کريم لولي او د دۀ نه هدايت حاصلوي،هغه کوم خلق دي؟هغه هُغه خلق کوم چې بغير د ليدلو (يعنې د غيبو پۀ څيزونو باندې) ايمان راوړي، نـمونځ قائموي، د الله پاک پۀ لار کښې د هغۀ پۀ ورکړے شوي رزق کښې خرچ کوي او پۀ اخرت باندې پوخ ايمان راوړي-

اوس پۀ دې دوو آيتونو (يعنې پۀ آيت: شپږم او اووم) کښې د هُغه خلقو ذِکر کيږي کوم چې قرآنِ کريم ولولي ، پۀ دۀ باندې ځان هم پوهه کړي، د دۀ پۀ مخکښې که حق هر څومره هم واضحه بيان کړے شي، د دې باوجود دوئي ايمان نۀ راوړي او هدايت قبلولو ته نۀ تياريږي- دا کوم خلق دي؟ الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا (پاره: 1، سورۀ بقره: 6) | **ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** بے شکه هُغه خلق د کومو پۀ قسمت کښې چې کُفر دے- |

يعنې دا کافِران خلق دي- لکه ابو جهل، ابو لهب، عتبه، شيبه وغيره [1] او تر قيامته پورې د دوئي پۀ شان خلق کوم چې ازلي کافران دي، د هغوئي حالت څۀ دے؟ د هغوئي خراب عادتونه، خراب صفتونه څۀ دي ؟

---

1... حاشيه جمل على الجلالين، پاره: 1، سورۀ بقره، زير آيت: 6، جلد: 1، صفحه: 2120 ـ

سَوَآءٌ عَلَیۡہِمۡ ءَاَنۡذَرۡتَہُمۡ اَمۡ لَمۡ تُنۡذِرۡہُمۡ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۶﴾ (پاره:1، سورۀبقره:6)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هغوئي د پاره برابره ده که تاسو يې ويَروئ او که وه يې نۀ ويَروئ هغوئي ايمان نۀ راوړي۔

دا يو قِسم له د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د زړۀ ساتنه هم ده او پۀ دې کښې نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د غيبو عِلم هم ورکړے شوے دے، پۀ اصل کښې زمونږه آقا و مولیٰ، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې به کله غير مسلمو له د نيکۍ دعوت ورکولو، هغوئي به يې پوهه کول، د ايمان د قبلولو دعوت به يې ورکولو او هغوئي به نۀ منلو، ايمان قبلولو ته به نۀ تياريدل نو رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به غمژن کيدلو، پۀ دې باندې الله کريم د نبي کريم صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زړۀ له تسلي ورکړه او اوئې فرمائيل:[1]

سَوَآءٌ عَلَیۡہِمۡ ءَاَنۡذَرۡتَہُمۡ اَمۡ لَمۡ تُنۡذِرۡہُمۡ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ ﴿۶﴾ (پاره:1، سورۀبقره:6)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هغوئي د پاره برابره ده که تاسو يې ويَروئ او که وه يې نۀ ويَروئ هغوئي ايمان نۀ راوړي۔

يعني اے محبوبه صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ستاسو پۀ پوهه کولو کښې هيڅ کمے نشته، کمے پۀ دې غير مسلمو کښې دے۔ تاسو خو باکماله يئ، ستاسو د پوهه کولو انداز هم باکماله دے، تاسو خو د نيکۍ د دعوت ورکولو حق ادا کړو خو دوئي بد بخته دي، ضديان دي، تاسو که دوئي پوهه کوئ او که نۀ يې پوهه کوئ، تاسو که دوئي د قيامت نه، د الله پاک د عذابونو نه ويروئ او که نۀ يې ويروئ، دوئي به هيڅکله هم ايمان نۀ قبلوي۔

دا عِلمِ غيب دے، د ابو جهل، عتبه، شيبه وغيره سختو کافرانو انجام به څۀ وي؟ دوئي به ايمان راوړي او د جنَّت حقدار به جوړيږي که پۀ کُفر باندې به کلک ودريږي او د هميشه د پاره به د دوزخ حقدار جوړيږي؟ د دوئي خاتِمه به څنګه وي؟ الله کريم دا ټولې خبرې خپل خوږ محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته د مخکښې نه بيان کړې۔ او دراتلونکې څۀ خبرې عِلم لرل، هُم

1...تفسير نعيمی، پاره:1، سورۀبقره، زير آيت:6، جلد:1، صفحه:150 خلاصةً۔

دې ته خو عِلمِ غیب وئیلے شي- معلومه شوه چې زمونږه خوږ آقا و مولا، د غیبو د خبرو نه خبر مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خلقو د انجام نه هم خبر دے-

اور کوئی غیب کیا تم سے نِہاں ہو بھلا | جب نہ خدا ہی چھپا تم پہ کروروں درود

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا ازلي کافران، غیر مسلمه مثلاً ابو جهل، عتبه، شیبه وغیره به د پوهیدو باوجود کلمه ولې نهٔ وائي؟ پهٔ دوئي کښې اصلي او بنیادي خرابي څهٔ ده؟ الله پاک فرمائي:

خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَ عَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ وَ عَلٰۤى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ٘ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:7)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: الله د هغوئي پهٔ زړونو او غوږونو باندې مهر لګولے دے او د هغوئي پهٔ سترګو پردې پرتې دي-

حُضُور داتا ګنج بخش علي هجویري رَحمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پهٔ کَشفُ المَحجُوب شریف کښې فرمائي: د زړهٔ زنګ او پردې په دوه قِسمونه دي: **(1)**: یو دے: **حجابِ غَین**: یعني عارضي پرده (کومه چې بعضې وخت پهٔ ګناه کولو او پهٔ غفلت کښې د اخته کیدو پهٔ وجه زړهٔ نیسي، دا عارضي زنګ وي، کوم چې پهٔ توبه کولو، پهٔ نیکو کارونو کولو او د نیکانو خلقو د صحبت د اختیارولو پهٔ برکت لرې کیږي) او **(2)**: دویم دے: **حجابِ رَین**: دا داسې تور والے دے لکه څنګه چې کوئله وي، کېږه چې داغ واخلي نو پهٔ وینځلو صفا کیږي خو کوئله که هر څومره هم وینځې، دا نهٔ صفا کیږي، هم داسې د بعضې بد بختو خراب اعمال، د هغوئي خراب کردارونه او پرله پسې د ګناهونو کولو پهٔ وجه د هغوئي زړونه حجابِ رَین (یعني پوخ تور والے) ونیسي کوم چې هډو لرې کیږي نهٔ-[1]

څکه الله پاک ووئیل چې دا چې کوم ازلي کافران دي، ابو جهل، عتبه، شیبه وغیره، د دوئي زړونو حجابِ رَین یعني پوخ تور والے نیولے دے، د دوئي د بدو اعمالو پهٔ وجه د دوئي پهٔ زړونو باندې مهر لګیدلے دے چې اوس د دوئي زړونه د حق قبلولو لائق نهٔ دي پاتې، د دوئي پهٔ غوږونو

1... کشف المحجوب، صفحه:15 مفهوماً-

باندې هم مهر لګيدلے دے کوم چې اوس حق نۀ اوري او د دوئي پۀ سترګو باندې پردې دي، ځکه د دوئي سترګې د حق ليدلو نه محرومه شوې دي او

| | |
|---|---|
| لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۚ﴿۷﴾ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:7) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د هغوئي د پاره ډير لوئي عذاب دے۔ |

د الله پاک پناه! د الله پاک پناه! الله پاک دې مونږه د داسې بد نصيبئ نه محفوظ کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ايماں پہ ربِّ رَحمت دیدے تُو اِستقامت | دیتا ہوں واسِطہ میں تجھ کو ترے نبی کا

## د زړه کولو دوه اهمې خبرې

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږه د قرآنِ کريم د دې دوو آيتونو او د هغې وضاحت واوريدو، پۀ دې کښې زمونږ د پاره د زدکړې دوه خبرې دي۔ يا داسې ووايئ چې الله پاک مونږ ته د خپل محبوبِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله باندې د هدايت کتاب، د قرآنِ کريم پۀ شان نعمت عطا کړو، اوس د دې پاک کتاب لوستل او مونږ ته د دې نه هدايت حاصلول دي خو دوه ډير خراب صفتونه، ډير مهلک (پۀ هلاکت کښې اخته کوونکي) باطني بيمارئ دي د کومو سره چې انسان هدايت نشي قبلولے، ځکه مونږ له د دې دوو خبرو نه هر وخت بچ کيدل پکار دي۔ دا کوم داسې دوه صفتونه دي؟۔

## (1): ضد

رَبِّ کريم فرمائي:

| | |
|---|---|
| اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَاَنْذَرْتَهُمْ اَمْ لَمْ تُنْذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۶﴾ (پارہ:1، سورۂ بقرہ:6) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بے شکه هُغه خلق د کومو پۀ قسمت کښې چې کُفر دے د هغوئي د پاره برابره ده که تاسو يې ويَروئ او که وه يې نۀ ويَروئ هغوئي ايمان نۀ راوړي۔ |

دا د کافرانو خراب صفت دے چې دوئي ضديان دي، که دوئي پوهه کوې او که نۀ يې پوهه کوې، دوئي د منلو طرف ته نۀ راځي، حق واضحه شو، ډير د حکمت سره، پۀ دليلونو ورکولو، پۀ معجزو ښودلو او د نيکئ دعوت وړاندې کړے شو، بيا هم دوئي کلمې وئيلو ته نۀ تياريږي- معلومه شوه چې د هدايت قبلولو د پاره **د منلو طبيعت** ډير ضروري دے، چا چې خپل طبيعت هم " **زۀ يې نۀ منم**" والا جوړ کړے وي، اِنکار کول يې پۀ خپل فِطرت کښې شامل کړے وي، که هغوئي پوهه کوې، خبرې ورته کوې، دليلونه ورکوې، که هر څۀ کوې خو هغوئي منلو ته هډو تياريږي نۀ نو داسې ګس به څنګه هدايت قبلوي؟ ځکه که د هدايت د لارې مسافر جوړيدل غواړې نو د " **منلو والا طبيعت**" به اختيارول پکار وي-

## د سپوږمۍ دوه ټوټې کيدو واقعه

وګورئ چې ابو جهل وغيره د مکې کافران پۀ کوم انداز کښې پوهه کړے شو، هغوئي چې کومه غوښتنه وکړه، هغۀ پوره کړے شوه، د دې باوجود هغوئي منلو ته تيار نۀ شو- يو ځل شپه وه، د مکې مکرمې لوئي لوئي کافران ابو جهل، مغيره او عاص بن وائِل وغيره بارګاهِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او عرض يې وکړو: اے مُحَمَّد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! که تاسو واقعي رښتونے نبي يئ نو سپوږمۍ دوه ټوټې کړئ! سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: که زۀ داسې وکړم نو آيا تاسو به ايمان راوړئ؟ اوئې وئيل: آؤ! ضرور (مونږه به کلمه ووايو او مسلمانان به شو)- نو مالِکِ او مختار نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وړومبے د الله پاک پۀ حضور کښې دُعا وکړه، بيا يې پۀ خپل لاس مبارک (يعنې د شهادت پۀ ګوته مبارکه) د سپوږمۍ طرف ته اِشاره وکړه نو سپوږمۍ دوه ټوټې شوه-

چاند دو ٹکڑے ہوا صدقے گیا | جب اشارہ مصطفٰے کا پا گیا

دا د څوارلسمې سپوږمۍ وه، د سپوږمۍ يوه حصه د حِرَا غر طرف ته شوه او بله حصه يې د غر بل طرف ته شوه، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو يو کافِر ته اواز کولو

او فرمائيل يې: اے فلانکيه! ګواه شۀ! اے فلانکيه تۀ هم ګواه شۀ! پۀ روايتونو کښې دي: کافِرانو پۀ دې باندې يقين نۀ کولو، هغوئي به بيا بيا خپلې سترګې مږلې، بيا به يې کتل، سپوږمۍ واقعي چې دوه ټوټې وه، اخر سترې شول او اوئې وئيل:

سِحۡرٌ مُّسۡتَمِرٌّ ﴿۲﴾ (پاره:27، سورۀقمر :2) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا خو څه دائمي جادو دے۔

پۀ دوئي کښې يو کافِر ووئيل: که دا واقعي جادو دے نو پۀ تاسو باندې جادو وشو، پۀ ټوله دُنيا باندې خو نۀ دے شوے، لهذا چې کله قافلې راځي نو د هغوئي نه به پوښتنه وکړو، نو د مختلفو ځايونو نه مسافر راغلل، مکې والؤ د ټولو نه پوښتنه وکړه نو ټولو هم دغه ووئيل: آؤ! مونږه پۀ فلانکۍ شپه باندې سپوږمۍ دوه ټوټې شوې ليدلې وه۔ (1)

الله! الله! دا څومره د کمال معجزه وه، ابو جهل وغيره له خو بيا پکار وو چې کلمه يې وئيلې وے او مسلمانان شوي وو خو افسوس چې پۀ هغوئي باندې بد بختي غالبه وه، هغوئي پۀ دې خبره باندې کلک ولاړ وو چې مونږ خو يې هسې هم نۀ منو۔ نو پۀ خپلو سترګو باندې يې سپوږمۍ دوه ټوټې کيدل وليدل او د بهر نه د راغلو مسافرو د ګواهۍ اوريدو باوجود يې هم دغه ووئيل:

سِحۡرٌ مُّسۡتَمِرٌّ ﴿۲﴾ (پاره:27، سورۀقمر :2) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: دا خو څه دائمي جادو دے۔

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا د نۀ منلو طبيعت** ❁ کافرانو د سپوږمۍ دوه ټوټو کولو ووئيل، سپوږمۍ ورته دوه ټوټې وښودلے شوه ❁ د کاڼو د خبرو کولو يې ووئيل، پۀ کاڼو باندې کلمه ووئيلے شوه ❁ ونې رواني شولې ❁ څناورو سجدې وکړې خو چې طبيعت انکار والا جوړ کړے شي نو بيا که هر څۀ هم وي، هم انکار کول به وي، چې کله ذهن جوړ شي چې زۀ يې نۀ منم نو بيا که زمکه بره لاړه شي او اسمان ښکته راکوز شي، که هر څۀ وکړے شي نو هډو مني يې نۀ۔

---

1...تفسير خزائن العرفان، پاره:27، سورۀقمر، زير آيت:1، صفحه:976 خلاصةً۔

تجھے کیا بتاؤں کے معجزہ کیا ہے | تُو تو آگے سے بولتا ہے میاں

وضاحت: څوک چې ژبه تيره کوي، د ژبې نه يې قينچي جوړه کړې وي، د چا مقصد چې هم صرف تنقيد دے، د منلو يې هډو ذهن نهٔ وي، هغوئي ته معجزې ښودل هيڅ فائده نهٔ کوي، داسې خلق د معجزې پهٔ ليدلو هم پهٔ ګمراهۍ کښې اخته وي، هدايت نهٔ اختياروي۔

ځکه پهٔ خپل ځان کښې د هدايت د قبلولو صلاحيت زياتول پکار دي، که د هدايت پهٔ لار باندې تلل غواړئ نو د منلو والا طبيعت به جوړول وي۔

## پهٔ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ باندې د هدايت لاره کولاو شوه

بل طرف ته چې د چا د منلو والا طبيعت وي، پهٔ هغوئي باندې چې څنګه حق واضحه شي نو هغوئي پهٔ هدايت قبلولو کښې لم ليټ نه کوي۔ وګورئ چې حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ چې کله کلمه نهٔ وه وئيلې، پهٔ اِسلام کښې نهٔ وو داخل شوے، مشهوره واقعه ده، هغوئي توره راويستې وه او روان وو، اراده يې کړې وه چې نن به مُحَمَّد (صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) شهيد کووم۔ (اَستَغفِرُ الله! اَستَغفِرُ الله!)

خو الله پاک ته څهٔ بَل څهٔ منظور وو، پهٔ لاره کښې د خپلې خور کور ته لاړو، قرآنِ کريم يې وليدلو، کولاو يې کړو، د سورهٔ طٰهٰ يو څو آيتونه يې لوستلي وو چې د زړهٔ دُنيا يې بدله شوه، د ابو جهل پهٔ شان يې زړهٔ د ګند ډيران نهٔ وو، د هدايت د کتاب باران يې چې پهٔ زړهٔ باندې وشو نو د هدايت چينې ترينه رواني شوې، هٰغه عمر (رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ) چا چې لږ سعت مخکښې توره راويستې وه او د اِسلام (مَعَاذَالله!) د ختمولو د پاره راوتے وو، بيا پهٔ ادب سره بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضر شو، سر يې ښکته کړو او د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم لمن يې ونيوله او د هدايت د اسمان روښانه ستورے جوړ شو۔ (1)

1... فيضانِ فاروقِ اعظم، صفحه:320 خلاصةً۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** غور وکړئ چې څومره فرق دے، ابو جهل سپوږمۍ پۀ دوه ټوټې کيدو وليدله، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ صرف د يو څو آيتونو تلاوت وکړو- ابو جهل کلمه اونه وئيله، حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ هدايت قبول کړو، اخر ولې؟ ځکه چې ابو جهل **د نۀ منلو طبيعت** جوړ کړے وو، هغۀ هدايت قبول نکړو خو د حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ داسې څۀ ذِهن نۀ وو، څنګه چې پۀ هغوئي باندې حق واضحه شو نو هغوئي سر ښکته کړو او وه يې منلو-

معلومه شوه چې د هدايت د قبلولو د پاره د منلو والا طبيعت ضروري دے- ضدي نۀ دي جوړيدل پکار- مونږه اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! مسلمانان يو، مونږه منلو والا يو- د مسلمان لفظي معنیٰ هم دا ده: سر ټيټوونکے (يعنې حق خبره پۀ سر ښکته کولو سره منلو) والا- ځکه مونږ ته هميشه د صحيح خبرې د منلو طرف ته مائل کيدل پکار دي- د بده مرغه زمونږه پۀ معاشره کښې ضديان خلق هم وي، که هغوئي ته د قرآنِ کريم آيتونه ووئيلے شي، حديثونه ورته بيان کړے شي، علمائے کرام کوم چې د قرآن او د حديث پۀ رڼا کښې شرعي مسئلې بيانوي، د هغوئي ارشادات ورته بيان کړي! دا خلق منلو ته نۀ تياريږي- دا ډيره بده خبره ده، چې کله د الله پاک د خوږ رسول، رسولِ مقبول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبره راغله، د شريعت مسئله مونږ ته پۀ ښه طريقه راورسيدله نو بيا د دې پۀ منلو کښې وخت لګول نۀ دي پکار، د شريعت معاملې د خپلې اَنَا مسئله نۀ دي جوړول پکار- د حق سره دښمني کول د تباه او برباد کولو والا باطني بيماري ده، مونږ له د دې نه ډيره ډېره کول پکار ده-

## د ضدي قومونو عبرتناکه انجام

وګورئ! فرعون ضد وکړو، د حق واضحه کيدو باوجود يې قبول نکړو نو پۀ درياب کښې غرق کړے شو ✿ قومِ **عاد** ډير طاقتور قوم وو، د هغوئي طرف ته حضرت هُود عَلَيْهِ السَّلَام نبي راوليږلے شو، هغوئي ضد وکړو، د حق واضحه کيدو باوجود يې قبول نکړو، پۀ هغوئي باندې

د طوفان عذاب راغلو کوم چې **د قومِ عاد نوم او نشان هم ختم کړو۔**[1] ❁ د **قومِ ثمود** طرف ته حضرت صالح عَلَيْهِ السَّلَام نبي راوليږلے شو نو هغوئي هم ضد وکړو،حق يې قبول نکړو، انکار يې وکړو، پۀ کفر باندې کلک ودريدل، ګناهونه يې وکړل، اخر پۀ هغوئي باندې هم قهر نازل شو، پۀ هغوئي باندې هم د سختې زلزلې عذاب نازل کړے شو، پۀ کوم باندې چې هغوئي د هميشه هميشه د پاره فنا کړے شول۔[2]

پۀ تير زمانه کښې نور هم ګومره قومونه تير شوي دي، کومو چې ضد وکړو، حق خبره يې قبوله نۀ کړه، دا ټول زمونږ نه زيات طاقتور وو، زمونږ نه زيات مالداره وو، زمونږ نه زيات مضبوط وو خو د حق سره دښمنۍ دوئي د تباهۍ سره مخ کړل او پۀ دوئي د الله پاک عذاب نازل شو او د هميشه د پاره تباه او برباد شول۔ ځکه مونږ له ضد نۀ دي کول پکار۔ که مونږ ته شرعي مسئله بيانوونکے زمونږ نه کشر دے يا مشر دے، زمونږه ورور دے يا ګاؤنډي دے، زمونږه دوست دے يا دښمن دے، که عاشقِ رسول دے، واقعي چې صحيح مسئله بيانوي، د قرآن او د حديث پۀ رڼا کښې، د عاشقانِ رسول علمائے کرامو نه يې اوريدلې ده، د هغوئي نه يې پوښتنه کړې ده او بيانوي يې، بيا مونږ له پکار دي چې مونږ يې اومنو۔ سُود له د منافې نوم ورکول، زکوٰة ته ټيکس وئيل، پۀ واده ښادۍ وغيره کښې بے پردګي، ډولونه تماشې وغيره ته **هر څۀ چليږي** وئيل او نۀ بندول او که څوک د الله پاک نه ويريدونکے مونږه منع کړي نو هغۀ اُلټا رټل، هغۀ ته ردې بدې وئيل او د هغۀ زړۀ ماتول، هيڅکله هم صحيح خبره نۀ ده۔ مسلمان بے عمله خو کيدے شي خو يو رښتونے مسلمان ضدي نشي کيدے، هغۀ د الله پاک او د هغۀ د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خبرې د زړۀ او ځان نه د منلو والا وي۔

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ بے شميره اعلیٰ صفتونو کښې يو اهم صفت دا هم دے چې د هغوئي طبيعت

---

[1] … سيرت الانبياء، صفحه:223 خلاصةً۔
[2] … سيرت الانبياء، صفحه:247 خلاصةً۔

پهٔ بَل د منلو طرف ته نهٔ بلکې پخپله د منلو طرف ته مائل دے۔ هغوئي د هر خالي پهٔ ورځ پهٔ مَدَني چينل لائيو مَدَني مذاکره (يعني د سوال او جواب سلسله) فرمائي، د کلونو نه د هغوئي عادت مبارک دے چې هغوئي هم د مَدَني مذاکرې پهٔ شروع کيدو کښې فرمائي: **که چرې ما پهٔ غلطئ باندې ووينئ نو فوراً زما اِصلاح وکړئ، ما به پهٔ خپله غلطئ باندې کلک وړيدونکے نهٔ بلکې د منني کولو سره رجوع کوونکے به مې وينئ۔**

خومره غټه خبره ده، لائيو پروګرام دے، پهٔ ټوله دُنيا کښې يې خلق ګوري، د کروړونو مريدانو کامِل پير صفا وائي: **که زما نه غلطي وشي نو ما ته ووايئ، زهٔ به شکريه هم ادا کړم او خپله غلطي به هم ومنم۔** الله پاک دې زمونږه هم داسې توفيق نصيب کړي، ضد انسان تباه کوي۔ الله دې کړي چې مونږه منلو والا جوړ شو۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (2): د خپل زړهٔ حفاظت!

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دويمه خبره کومه چې مونږ ته د سورهٔ بقره د دې دوو آيتونو نه د زدکړې د پاره ميلاؤ شوه، هغهٔ دا ده چې د مکې د کافرانو دا خراب صفت بيان شو:

| | |
|---|---|
| خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ وَعَلٰى سَمْعِهِمْ ؕ وَعَلٰۤى اَبْصَارِهِمْ غِشَاوَةٌ ۫ وَّلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۠ (۷) (پاره: 1، سورهٔ بقره: 7) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: الله د هغوئي پهٔ زړونو او غوږونو باندې مهر لګولے دے او د هغوئي پهٔ سترګو پردې پرتې دي او د هغوئي د پاره ډير لوئي عذاب دے۔ |

معلومه شوه چې پهٔ زړهٔ باندې مهر لګيدل، دا ډيره خطرناکه بيماري ده، هم دا هغه بنيادي مرض دے کوم چې معلومه نهٔ ده چې د خومره قومونو د هلاکت سبب جوړ شوے دے، دغه شان د باطني بيمارئ پهٔ وجه انسان د حق خبرې د منلو، د هدايت د حاصلولو تر دې پورې چې سراسر د هدايت د کتاب قرآنِ کريم د لوستلو سره هم پهٔ نيغه لاره باندې د تللو نه محرومه کيږي۔ څکه مونږ له پکار دي چې مونږه د خپل زړهٔ

حفاظت وکړو، هيڅکله هم خپل زړهٔ مهر لګيدو ته نهٔ پرېږدو چې د چا پهٔ زړهٔ باندې مهر ولګي نو د هغهٔ د پاره د هدايت دروازې بندې شي۔

**چا شاعر وئيلي دي"**

دِلِ مرده دِل نہیں، اسے زِندہ کر دوبارہ | یہی اُمّتوں کے مرضِ کُہَن کا چارہ

**وضاحت:** چې کله زړونه مړه شي، زړونه د ګناهونو زنګ ونيسي، د کفر تيارې پرې راخورې شي نو قومونه تباه او برباد شي، ځکه د قومونو د تباهۍ نه د بچ کولو هم دغه طريقه ده چې د هغوئي د زړونو اِصلاح وکړے شي، د تورو زړونو نه زنګ لرې کړے شي او هغوئي پرقيدونکي ځلنده جوړ کړے شي۔

## پهٔ زړهٔ باندې د مهر لګيدو اسباب

پهٔ زړهٔ باندې د مهر لګيدو ډير اسباب دي، مثلاً (1): **د ګناهونو کثرت پهٔ زړهٔ باندې د مهر لګيدو يو بنيادي سبب دے۔** خوږ آقا، رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: چې کله انسان ګناه کوي نو د هغهٔ پهٔ زړهٔ باندې يو تور داغ ولګي، که توبه وکړي نو هغه داغ ختم کړے شي ګني که بيا ګناه وکړي نو يو بل داغ پرې ولګي بيا چې يوه بله ګناه وکړي، يو بل داغ پرې ولګي، داسې پهٔ ګناه کولو کولو ټول زړهٔ تور شي۔[1] لهذا د ګناهونو نه بچ کيدل ډير ضروري دي۔ هسې نهٔ چې د ګناهونو عادت پهٔ زړهٔ د مهر لګيدو سبب جوړ شي او مونږه د هدايت نه محرومه کړے شو۔ علمائے کرام فرمائي: د مخکښينو اُمتونو عذاب د جسماني بدن خسف کيدل او مسخ کيدل وو (يعني مخکښينو اُمتونو چې به نافرماني وکړه نو هغوئي به پهٔ زمکه وردننه کړے شو، د هغوئي مخونه به ورانيدل، د چا نه به شادوګان [يعني بيزوګان] جوړ کړےشو، د چا نه به خنزيدارن جوړ کړے شو) خو د دې اُمت عذاب روحاني خَسف او مَسخ کيدل دي، مخکښې به وجودونه بدليدل، اوس زړونه بدليږي۔[2] الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

---

1...ترمذی، کتاب تفسیر القرآن، باب ومن سورۃ ویل للمطففین، صفحه:769، حديث:3334۔

2...تفسیرِ نعیمی، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زیرِآیت:66، جلد:1، صفحه:454۔

| ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او مونږه به د هغوئي زړونه او د هغوئي سترګې واړوو- | وَ نُقَلِّبُ اَفۡـِٕدَتَهُمۡ وَ اَبۡصَارَهُمۡ (پارہ:7،سورۂ انعام:110) |
|---|---|

د الله پاک پناه! د الله پاک پناه! خومره د عبرت خبره ده، د ګناه کولو، د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نافرمانۍ کولو پهٔ وجه زړونه اړولے کېږي-

الله پاک دې مونږه د داسې ذلت او رسوايئ نه بچ کړي- کاش چې زمونږه د ربنتونې توبې توفيق نصيب شي-

| | |
|---|---|
| رہے آہ! ناکام ہم یاالٰہی! | بڑی کوششیں کیں گناہ چھوڑنے کی |
| رہوں گا نہ تیری قسم یاالٰہی! | جو ناراض تُو ہو گیا تو کہیں کا |
| پئے تاجدارِ حرم یاالٰہی! | مجھے سچی توبہ کی توفیق دیدے |

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## پهٔ زړهٔ باندې د مهر لګېدو څلور اسباب

امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پهٔ منهاج العابدين کښې فرمائيلي دي چې څلور باطني بيمارۍ دي کومې چې زړهٔ ته ډېر نقصان رسوي: (1): **حسد** يعنې جيلس (***Jealousy***) کيدل(سوزيدل)، نورو ته د ورکړے شوي نعمت پهٔ ليدلو دا خواهش کول چې دا نعمت د هغهٔ نه واخستے شي او ما ته ميلاؤ شي، دا حسد دے-[1] پهٔ حديثِ پاک کښې دي: حسد نيکۍ داسې خوري لکه څنګه چې وور لرګي خوري-[2] امام غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د حسد کوونکي زړهٔ ړوند شي، تر دې پورې چې هغهٔ د الله پاک پهٔ احکامو باندې هم نهٔ پوهيږي-[3]

| | |
|---|---|
| کیجئے رَحمت اے نانائے حسین | میں گناھوں سے سدا بچتا رہوں |
| کیجئے رَحمت اے نانائے حسین | جھوٹ سے بُغض و حسد سے ہم بچیں |

[1] ...الحديقة الندية، الباب الثانى، الخلق الخامس عشر الحسد، المبحث الاول، جلد:3، صفحه:34 ملتقطًا۔
[2] ...ابو داؤد، كتاب الادب، باب فى الحسد، صفحه:769، حديث:4903۔
[3] ...منهاج العابدين، صفحه:188۔

(2): **زړهٔ ته نقصان رسوونکې دويمه بيماري ده: طُولِ عمل** (يعنې اوږدِ اُميد) مثلاً دا ذهن جوړول چې زهٔ خو به لا 10 کاله ژوندے يم، 50 کاله به ژوندے يم، 100 کاله به ژوندے يم- دا هم ډيره خرابه بيماري ده- الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْاَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوْبُهُمْ ؕ (پارہ:27، سورۂحدید: 16) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: بيا پهٔ هغوئي موده اوږده شوه نو د هغوئي زړونه سخت شول- |

معلومه شوه چې د اوږدو اُميدونو پهٔ وجه زړهٔ سختيږي- (3): **زړهٔ ته نقصان رسوونکې دريمه بيماري ده: تادي کول-** د دې پهٔ وجه هم بعضې وخت بنده د هدايت نه محرومه پاتې کيږي او (4): **زړهٔ ته نقصان رسوونکې څلورمه بيماري ده: تکبر-** دا د ټولو نه خرابه باطني بيماري ده، د دې پهٔ وجه شيطان مردود شو، د تکبر پهٔ وجه هم پهٔ زړهٔ باندې مهر لګي- الله پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| كَذٰلِكَ يَطْبَعُ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ قَلْبِ مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ﴿۳۵﴾ (پارہ:24، سورۂمؤمن: 35) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: الله د هر کبرژن سرکشه پهٔ زړهٔ هُم داسې مهر لګوي- |

عُجب و تکبُّر اور بچا حُبِّ جاہ سے | آئے نہ پاس تک رِیا یا ربِّ مصطفٰے

گر تکبّر ہو دل میں ذرّہ بھر

سُن لو جنّت حرام ہوتی ہے

## پهٔ زړهٔ باندې د مهر لګيدو يو اهم سبب

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پهٔ زړهٔ باندې د مهر لګيدو يو بل اهم سبب د الله پاک د نيکانو خلقو بے ادبي هم ده-** مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: پهٔ ګناه کولو باندې زړهٔ پهٔ ورو ورو خيرے نيسي (مثلاً د يوې ګناه سره پهٔ زړهٔ باندې يو داغ ولګيدلو، د دويمې ګناه سره دويمه داغ ولګيدلو، د دريمې ګناه سره پهٔ زړهٔ باندې دريمه داغ ولګيدلو، داسې د ګناهونو

پۀ ذريعه زړۀ ورو ورو خيرے نيسي) او د نيکو کولو سره د زړۀ نه پۀ ورو ورو خيرے لرې کيږي (مثلاً چې يوه ورځ نـمونځ وکړې نو نـمونځ به درله خوند نۀ درکوي، پۀ دويمه ورځ دې وکړو، پۀ دريمه ورځ دې نـمونځ وکړو نو پۀ ورو ورو به د زړۀ نه خيرے لرې شي او بيا به د زړۀ نه د خيري د لرې کيدو نه پس بنده ته پۀ نـمونځ کښې خوند ميلاؤيدل شروع شي نو نيکي چې کومه ده دا پۀ ورو ورو د زړۀ نه خيرے لرې کوي) خو د الله پاک د کوم نيک بنده بے ادبي يو دم پۀ زړۀ باندې د مهر د لګېدو سبب جوړيږي- وګورئ چې شيطان پۀ زرګونو کاله عبادت کړے وو خو د لږ سعت د پاره يـې د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام بے ادبي وکړه نو يو دم هغۀ مجرم او مردود شو، يو دم د هغۀ زړۀ تور شو، د هغۀ پۀ زړۀ باندې مهر ولګيدو- (1)

معلومه شوه چې د الله پاک د نيک بنده پۀ بے ادبئ کولو سره يو دم پۀ زړۀ باندې مهر لګي او که د الله د کوم نيک بنده نظر پرې پريوځي نو يو دم ټول خيرے لرې کيږي-

## د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نظر برکت

حضرت سيدنا حضور غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه حج وکړو او واپس راتللو، پۀ لاره کښې يـې يو کَس وليدلو، هغۀ غل وو پۀ اصل کښې يـې غلا کول غوښتل، حضرت غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې کله ورنزدې شو نو پوښتنه يـې ترينه وکړه چې تۀ څوک يـې؟ هغۀ ووئيل چې زۀ فلانکے يم، دلته د چا انتظار کووم، حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چا چې به ټوله دُنيا داسې ليدله لکه څنګه چې د لاس پۀ تَلي باندې [د غنمو يا د ووري وغيره] دانه وي، د هغوئي پۀ مخکښې دۀ دروغ ووئيل- غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته خو معلومه وه چې دا څوک دے، هغوئي وفرمائيل: **زۀ عبد القادر يم،** څنګه چې هغۀ دا واوريدل چې دا غوثِ پاک دے نو فوراً يـې پۀ ښپو پريوتلو، حضور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک پۀ بارګاه کښې دُعا وکړه، د الله پاک د ولي چې پرې د کرم يو نظر پريوتلو نو هٰغه غل فوراً توبه کړه او د

---

1 ...تفسيرِ نعيمی، پارہ:1، سورۂ بقرہ، زيرِ آيت:7، جلد:1، صفحه:158 خلاصةً۔

قطبیت مقام ته ورسیدلو۔ [1]

معلومه شوه چې د کامِل ولي د یو نظر سره د بنده زړهٔ یو دم صفا کیږي۔ الله پاک دې مونږه د نیکانو خلقو، د نبیانو عَلَیہِمُ السَّلَام، د اولیائے کرامو رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہِم، د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُم، د اهلِ بیتِ پاک عَلَیہِمُ الرِّضْوَان او د عاشقانِ رسول علمائے کرامو د بے ادبئ نه همیشه **محفوظ** وساتي۔

محفوظ سدا رکھنا شہا! بے اَدَبوں سے | اور مجھ سے بھی سرزد نہ کبھی بے اَدَبی ہو

## د بیان خُلاصه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** الله پاک د کافِرانو خراب صفت بیان کړو:

| | |
|---|---|
| خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ (پاره:1، سورهٔ بقره:7) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: الله د هغوئي پهٔ زړونو باندې مهر لګولے دے۔ |

د دې وعید نه د بچ کیدو د پاره مونږ له پکار دي چې مونږه د ګناهونو نه هم ځان بچ کړو، د حسد نه هم ځان بچ کړو، د اوږدو اُمیدونو نه هم ځان بچ کړو، د تادئ کولو نه هم ځان وساتو، د تکبر نه هم هر وخت ځان بچ کړو او د الله پاک د نیکانو بندګانو د بے ادبئ نه هم ځان بچ کړو۔

چې زړهٔ صفا وي، د هدایت طرف ته مائل وي، دې د پاره د نیکو کولو کوشش وکړئ، د قرآنِ پاک پهٔ تلاوت کولو د زړهٔ نهٔ خیرے لرې کیږي، د ذِکرُ الله پهٔ کولو د زړهٔ نه خیرے لرې کیږي، هم دغه شان د نمونځ پهٔ کولو د زړهٔ نه خیرے لرې کیږي، هدیرې ته د تللو او د خپل مرګ د رایادولو سره هم د زړهٔ نه خیرے لرې کیږي، الله پاک دې زمونږه پاک زړهٔ نصیب کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

[1] ... تفریح الخاطر، صفحه:78۔

## مَدَنِي قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي کيشن

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې **مَدَنِي قاعِده** (***Madani Qaida***) دے۔ پۀ دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَنِي قاعِده او د دې آډيو (***Audio***) شامله کړے شوې ده يعني پۀ دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې پۀ کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک (***Click***) کوئ، پۀ آډيو (***Audio***) کښې به د هغې **تَلَفُّظ** چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن پۀ مرستې سره پۀ اسانئ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (***Practice***) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي۔ دا ايپلي کيشن پۀ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**راځئ چې د بيان پۀ اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:**

### صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمئ پۀ ګوته کول)

مسئله: پۀ سجده کښې د ښپې د يوې ګوتې خِېټه پۀ زمکه لګول فرض دي، او د هرې ښپې د دريو دريو ګوتو خِېټه پۀ زمکه باندې لګول واجب دي او د لسو واړو ګوتو د خِېټو پۀ زمکه باندې لګول او ګوتې د قبلې اړخ ته ساتل سُنَّت دي۔

وضاحت: ❁ د دې مسئلې طرف ته عام طور ډيره توجه نۀ کيږي ❁ ډير څل ليدلے شوي دي چې ښپې د زمکې نه اوچتې کړے شوې وي ❁ خوک چې پۀ زمکه باندې ښپې لګوي، پۀ هغوئې کښې داسې ډير دي کوم چې صرف د ګوتو سرونه پۀ زمکه باندې لګوي ❁ مسئله

ډېره د يادولو ده: پهٔ سجده کښې پهٔ لس واړه ګوتو کښې د يوې **خِيتِه** پهٔ زمکه باندې لګول فرض دي، د دواړو ښپو د دريو دريو ګوتو **خِيتې** لګول واجب دي او د لس واړو ګوتو **خِيتې** لګول او د ګوتو د قبلې اړخ ته کول سُنَّت دي ❁ که پهٔ سجده کښې ښپې د زمکې نه اوچتې کړے شوې، يوه ګوته هم پهٔ زمکه اونه لګولے شوه نو نـمونځ به يـې نهٔ کيږي، بيا کول يـې فرض دي ❁ که صرف غټه ګوته يـې ولګوله، باقي ګوتې يـې اوچتې کړې نو واجب به پاتې شي، ګناه به يـې هم کيږي او نـمونځ به هم بيا کول وي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د نـمونځ د زده کولو او پهٔ صحيح انداز کښې د ادا کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنٰی برکتونه (وظيفه)

### يا غَفَّارُ

څوک چې هميشه د يَا غَفَّارُ وِرد کوي نو هغهٔ به د نفس د خرابو خواهشاتو نه نجات حاصل کړي۔ [2] اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم!

---

[1] ... ماہنامہ فیضانِ مدینہ، جنوری 2018ء، دار الافتاء اہل سنّت، صفحہ:14

[2] ... مدنی پنج سورہ، صفحہ:248۔